# د صاحب شاه صابر د غزل اسلوب او مزاج

# Nature and Style of Sahib Shah Sabir's Ghazel

Shafi Ullah Shahnam [1]

Diction or articulation is the defined style of written expressions or methodology which stems from the ideological orientation of poets and writers in their literary publications. This distinctive character of poet of other literary figures, label them as distinguishable from others, though which the readers map their personality traits like ideas, choices, emotions, beliefs, mental and ideological tendencies and motivation etc. In the abovementioned context, Prof. Sahib Shah Sabir is a worth remembering and indelible poet at the horizon of Pashto literature. His well-articulated and enunciated style of expressions possess his own universe. All the necessary ingredients of Sahib Shah Sabir's poetry are mentioned in detail in the current research article which identifies his identifies his remarkable contributions in the field of his distinctive constituents of his diction.

د فن تر مخه طرز عمل، طرز بیان او طرز تحریر د انداز (Style) په نوم پېژندے شي. د یو شخصیت د طرز ادا، بیان او د تحریر ځانګړي صفاتو مجموعي ته د اسلوب نوم ورکړے کېږي ـ ځکه چې د فنکار انفرادي خوبي د هغهٔ د شخصیت پېژندګلو او امتیازي حېثیتونه په ګوته کوي. د اسلوب دغه امتیازي حېثیتونه او خاصیتونه په افادي فنونو کښې عموماً او په لطیف فنونو کښې خصوصاً مطالعه کېږي. ځکه چې فنون لطیفه په هر دور کښې خپل انداز او مزاج په خلقو منلے او ستائیلے دے.

د منفرد او غوره اسلوب په وجه په تحریر او اظهار خیال کښې تاثیر او کشش پیدا کېږي. اسلوب د ادبي اظهار کالي پټري، ښائست او اصلي توکي ګڼل کېږي. ادبي اسلوب د فکر، معنې، لفظ او هیئت د امتزاج نه په وجود کښې راځي. او د انفرادي خوبیو له رویه خپله پېژندګلو متعارف کوي.

د ادب او شاعرۍ په اړه که اسلوب د نثر وي که د نظم، که د څېړنکار تجزیه وي، که د شاعر قصیده، که د صاحب انداز لیکنه وي. که د خود ساخته فنکار تخیلاتي اظهار، که تقریر وي که

1 Assistant Professor Bacha khan University of Charsada

تحریر خو د ژبې د قاعدې او خصوصاً د لفظونو د جوړښت او ترتیب نه بغېر په وجود کښې نۀ شي راتلے:

"شاعري د یو شاعر د خیالاتو ائینه او د هغۀ د ذهني معیارغمازه وي . د شاعر د تخلیق نه لوستونکي په اسانه د شاعر د شخصیت اندازه اخېستلے شي او په دې پوهېدے شي چې د شاعر ذهني سطح څومره او څۀ ده" (۱)

د دنیا هر فن او هر فنکار د خپل مقصد، عمل او چوکاټ تر مخه د بیان خپله خپله ځانګړتیا لري. د شاعرۍ هنر هم خپل جدا رنګونه، اهنګونه او اندازونه لرلې دي. د شاعرۍ په دغه انداز بیان کښې شخصي لفظیات (Diction) د شاعر هغه لفظونه، علامات او اصطلاحات دي. کوم چې هغه په مختلفو وختونو کښې د مختلفو غرضونو د پاره کاروي. لکه د خوشحال ننګیال، د حمزه پښتون او د رحمان بابا ادمیت د شخصي لفظیاتو جامع نمونې دي. د ډکشن په حواله قیصر اپریدے لیکي:

"ځنې شاعران داسې وي. چې هغوي سره یو خاص ډکشن موجود وي. ذخیره الفاظ ورته ځکه نۀ وایو چې په ذخیره کښې الفاظ من حیث المجموعي حسابېږي. حال دا چې کوم څۀ ته ډکشن ووئیلے شو نو دا د یو خاص اندازې الفاظ وي. کوم چې شاعر د مختلفو مقصدونو او خیالاتو د اظهار دپاره په اړولي راړولي شکل کښې استعمالوي".(۲)

صاحب شاه صابر هم د ډکشن یا شخصي لفظیاتو په حواله ښکاره نامه ده. د هغۀ په لیک کښې کوڅه، خوبونه، وریځ، سوري، ورغوئ، سرے، ملګري، یاران، زخمونه، واورې، دردونه، ګلونه، سپرلے، قدرت او ښار داسې علامات دي چې د هغۀ د غزل په پېژندګلو کښې لوئ لاس لري. د دغه لفظونو د بار بار استعمال په وجه دغه توري ورو ورو د لیکوال د شخصیت او تخلیقیت خاصه اوګرځي او چې کله لوستونکے هم د دغه قسمه لفظونو او ترکیبونو سره اشنائي او علاقه پیدا کړي. نو بیا ورته پته لګي چې دا د چا لیک او انداز دے. د مخصوص ډکشن او د صنعتونود برمحل استعمال تر مخه د صابر څو شعرونه وړاندې کوم:

سړے څنګ سړي خورو ته سړے پرېږدي
په سړي خو به خوږېږي چې سړے وي (۳)

صابره څو که د سپرلي لاره ازغي ازغي ده
مړاوي دي نۀ شي د همت د حوصلې ګلونه (۴)

زمونږ د مستو اتڼونو به تر څو لړي وو
د ذات تېرو کښې به تر کومې پټېدل ملګري (۵)

دومره خبر یم چې د تورو نۀ ئې وینې څاڅي
دومره پوهېږم چې یاران په نوره نۀ دي خبر (۶)

په میو وینځي د لمن داغونه
په محتسب خو په رښتیا څه اوشو (۷)

د دردونو مرغۍ والوځي هوا کښې
د زخمونو ځانګې څنډ وهمه شور شي (۸)

د دې ښار غوښې رګونه، د دې ښار خوږمنې سترګې
سړکونه د تارکولو دکانونه د شیشو دي (۹)

په رګونو کښې مې ګرځي په زخمونو کښې مې اوسي
د ارمان د بڼ ګلونه، د یادونو د ښار خلک (۱۰)

د دردونو څادر واغوندمه ځملم
د زخمونو سترګې پټې کړم اوده شم (۱۱)

په دغه اړه سید طاهر بخاري لیکي:

"د اسلوب لغوي معنیٰ طریقه، روش او طرز دے، لېکن په تنقیدي ادبیاتو او شعریاتو کښې د شاعر یا ادیب د وینا او تحریر هغه مخصوص طرز ته وائي. د کوم په وجه چې هغه مشهور وي. یا ئې ترې د کلام پېژندګلو کېږي. په نورو لفظونو کښې دا چې لکه یو شاعر یا ادیب په خپل کلام کښې خاص قسم الفاظ یا علامات په امتیازي شکل کښې استعمال کړې وي. نو دې قسم شاعر یا لیکوال ته "صاحب طرز" وئیلے شي". (۱۲)

ادبي اسلوب دوه اړخونه لري. یو داخلي او بل خارجي. داخلي اړخ د فکر او موضوع سره علاقه لري او خارجي اړخ ئې د ژبې او هېئت د رغښت سره تعلق ساتي. خو بنیادي څیز قدرتي امر دے. چې په سټائل کښې لوے لاس لري. کله چې د سړي روح تازه او ضمیر بېدار وي نو په لیک کښې ئې فکري لوړتیا هم موجود وي او د ژبې برمحل او برجسته استعمال هم پکښې په نظر راځي. د دې نه علاوه چې لیکوال د خپلو ټولنیزو اقدارو او روایاتو سره جذباتي او روحاني تړون لري. نو هغه فنکار د سبک په حواله خپل ځانګړے مقام پیدا کولے شي:

"فنکار کو چاہیئے کہ وہ اپنی تحریر میں زور، اختصار او حسن تعبیر کی صفات پیدا کرے۔ کہ بری چیز بھی اچھی معلوم ہو، وہ ایک فقرے کو تین چار بار لکھ کر دیکھے گا کیونکہ اس سے کم مشق میں بات نہیں بنے گی۔ وہ اس بات کو ملحوظ خاطر رکھے گا کہ اپنی بات کی تکرار نہ کرے۔ وہ اپنے مواد کو اسطرح مرتب و منظم کرکے پیش کرے گا کہ قاری تک اس کا منتقل ہونا آسان ہو جائے گا۔ وہ بیکار الفاظ چھانٹ دے گا۔ بلکہ بیکار مواد سے پرہیز کرے گا۔ یوں کہہ لیجئے کہ اس سلسلے میں اسے اپنے سٹائل یا اسلوب کی اتنی فکر نہیں ہو گی جتنی پڑھنے والوں کو سہولت کی"(۱۳)

د نوي او جدید شعري ادب په مېدان صاحب شاه د خپل فکر، شاعرانه مزاج او انداز په حواله ډېر لوئے فنکار دے. هغهٔ ډېر په نوي رنګ او آهنګ کښې شاعري کړې ده. د خپل فکروفن د اظهار دپاره چې هغهٔ کومه ژبه، رویه او طرز بیان خپل کړے ؤ. دغه انداز د پښتو شعروادب په علاقه د ډېرې ستائنې او اهمیت وړ دے:

"اشخاص اور اصناف سے ہٹ کر اسلوبیاتی تجزیے کی ایک جہت اور بھی ہے۔ چونکہ ادبی ارتقاء میں اظہار کے لسانی پیرایہ عہد بہ عہد تبدیل ہوتے رہتے ہیں۔ اسلوبیات کی مدد سے یہ معلوم کیا جاسکتا ہے کہ کس عہد میں کون سا اسلوب رائج تھا یا کس عہد کی زبان کے لسانی امتیازات کیا تھے"۔(۱۴)

ګوپي چند نارنګ په خپل دغه مضمون کښې په دغه حواله وړاندې ليکي:

"اسلوبیات ادبی تنقید کو لسانی حُسن کاری کے رازوں، لفظوں کے تخلیقی استعمال کے نازک فرق اور ہلکے گہرے لفظیاتی اور معنیاتی امتیازات سے اگاہ کر سکتی ہے"۔(۱۵)

صابر د ژبې په قاعده او د هغې په استعمال ډېر ښهٔ پوهېدو. سوچه، ساده او عام فهمه ژبه او انداز د هغهٔ د کلام ښکاره خصوصيات دي. د هغهٔ غزل د موضوعاتو د نوي والي سره سره د ژبې او انداز په حواله ډېر انفرادي حېثيتونه لري. د شلمې صدۍ په جديد شاعرانو کښې د صابر غزل د خپل ځانګړي فکر، ادبي ښکلا او سوچه ژبې په حقله ګڼ رنګونه لرلي دي. د هغهٔ په سټائل کښې د علامت د غوره استعمال سره سره داسې طنزيه انداز سر پورته کړے دے. چې د هغهٔ د شګفته مزاج غوره عکسونه پکښې ځلېږي. هغهٔ چې د علامت، کنائې او طنز دپاره کومه رويه، تجربه او پوهه پکار کړې ده. دغه فنکاري په بنيادي توګه د هغهٔ د اسلوب، مزاج او ادبي شعور سرچينې په ګوته کړې دي. د هغهٔ په غزل کښې چې کوم کلمات، اصطلاحات او علامات د طنز او کنائې د محور نه تاو دي. دغه لفظونه او کلمات د هغهٔ ځانګړي صفات دي. چې هغه ئې د هم عصره ليکوالو نه په فرق او امتياز کښې ساتلے دے. دغه رنګ د هغهٔ سره معنوي ښکلا ده. معنوي ښکلا او آهنګ د هغهٔ د غزل فکري او موضوعاتي بڼه مضبوطه کړې ده. او د هغهٔ سبک ته ئې جدا قدرت وربخښلے دے.

د صابر مزاج قدرتي او انداز ادبي ؤ. غزل ئې ځکه د فکري جدت، موضوعاتي وسعت، معنوي ښکلا او ظاهري شکل و صورت په اړه قوي او کامل ليدے شي. اختصار، سادګي، علامت نګاري، پښتني لفظيات غوره رديف قافيه او طنزيه اندازونه د صابر د غزل په اسلوب او مزاج کښې د ډېر ستائنې فني اجزاء دي.

د اختصار په اړه د هغهٔ د لنډ بحر غزل د هغهٔ د غزليه شاعرۍ په زړهٔ پورې جامع او منفرد خصلت دے. چې د هغهٔ غزل ته ئې جدا انداز او مقام ورکړے دے. د هغهٔ د لنډ بحر انداز او هنر لوستونکو خوښ کړے هم دے، ستائيلے هم دے او د دغه ستائل د خپلولو شعوري هڅې ئې هم کړې دي:

"پیرایہ بیان کی ازادی کا استعمال شعوری بھی ہوتا ہے اور غیر شعوری بھی، اور اس میں ذوق، مزاج، ذاتی پسند و ناپسند، صنف یا ہیئت کے تقاضوں نیز قاری کی نوعیت کے تصور کو بھی دخل ہو سکتا ہے۔ یعنی تخلیقی اظہار کے جملہ ممکنہ امکانات جو وجود میں آ چکے ہیں اور وہ جو وقوع پذیر ہو سکتے ہیں۔ ان میں سے کسی ایک کا انتخاب کرنا جس کا اختیار مصنف کو ہے۔ دراصل اسلوب ہے"۔(۱۶)

په حيث د يو "صاحب طرز" شاعر د اختصار او مخصوص ډکشن نه علاوه په شعر کښې د جوړې جوړې لفظونو استعمال او هنر، د يو لفظ بار بار استعمال خو داسې انداز چې پراسراره کيفيتونه لري. دغه شان پښتني لفظونه او د هغې په څنګ د شعر سلاست او تاثير د هغهٔ د شاعرۍ او خصوصاً د غزل اجازه او انګازه پاتې شوې ده. روزمره لفظونه په داسې انداز کښې پکارول چې شعر معياري او ژبه سوچه ځليږي.

ډاکټر صابر ځهٔ لفظيات په خپل کلام کښې د خپل شخصي انداز او مخصوص ډکشن تر مخه ډېر معياري او دوامي رقم کړې دي. لکه کنډ کپر، غوښې رګونه، شلې پښې، ترخې اوبهٔ، ماتې ملاګانې، ګړنګونه، خوږمنې سترګې او سرې خوارهٔ وغېره داسې لفظونه دي چې صابر ډېر په شګفته اولسي رنګ کښې ثبت کړې دي. هم اواز او هم معنې لفظونه خصوصاً د مصرعې په مېنځ کښې راوړل او د دغه لفظونو په ذريعه د خپل تخيل په لار نوي نوي تفکرات او تصورات تجسيم کول د صابر د طرز تحرير خصوصي کمال دے. لکه د دوي د غزليه شعرونو دا څو مصرعې:

په صابر بنګ نهٔ لګي بنګ نهٔ کوي(۱۷)

زما اشنا زما اشنا نهٔ شوې(۱۸)

څومره ښۀ شم څومره ښۀ شي(۱۹)

د یار بلا زما بلا نۀ شوې(۲۰)

نغمې نغمې نشې نشې خبرې(۲۱)

څومره خوارۀ دي څومره ښۀ ملګري(۲۲)

ساه پکښې اخلم خو ساه ساه یم پکښې(۲۳)

خو یا به ما او یا به تا کوله(۲۴)

ما د بلا زلفو بلا غوښتله
ما سره دغسې بلا څه اوشو(۲۵)

د دغه سټائل تر مخه سلاست، بلاغت، مقصدیت او جمالیاتي قدرونه د ډاکټر صابر په شخصیت کښې عموماً او د هغۀ په کلام کښې خصوصاً ځلېدلي دي. دغه اندازونه هغۀ په خپل کلام کښې ډېر په هُنر ځائے کړې دي. ځکه ئې غزل ډېر معیاري، جدید او اعتباري وجود لري. حاضر جوابي، شګفته مزاجي او قدر شناسي د هغۀ د شخصیت او انداز بیان جوت مثالونه دي. ځکه ئې شعر سلیس، بلیغ او روان لیدے شي.

د زور، ښکلا او اختصار سره سره ئې داسې ترکیبونه کارولي دي چې غزل ئې د هر اړخه نوے او مقصدي برېښي. غرض دغه لفظیاتو، ترکیبونو او فني رغښت د جدت په څنګ د هغۀ د شعر معیار او اعتبار ځلولے دے. دغه شان سیاسي، سماجي او ټولنیز موضوعات هغۀ په خپل غزل کښې داسې ځائے کړې دي چې په ادبي حواله ډېر نوے والے او شګفته احساسات لري. د دې په څنګ پکښې د حقیقت پسندئ او ترقي پسندئ یو شمېر محرکات په نظر رائحي. چې پکښې د ټولنیز ژوند بنیادي مسئلې ډېرې په فني پېرایه کښې بیان شوې دي.

صابر د نوي او جديد انساني ژوند په څنګ خپل غزل ته دوام ورکړو. او د خپل چاپېريال د تقاضو په سمي ئې پکار کړو. د هغهٔ غزل د هغهٔ د شخصيت د هغهٔ د سټائل او د هغهٔ د فکروفن اعلىٰ نمونې دي. چې د انسان او ټولنې په ګڼو اړخونو پکښې بحث شوے دے. د جديد مشيني او صنعتي انسان په رويه او د انسان په ماضي ژوند پکښې ډېرې زياتې تجزئې او مطالعې وړاندې شوې دي. هغهٔ چې د ماضي او حال کومه تجزيه او مطالعه وړاندې کړې ده. دغه تجربه او تاثرات د نوي انساني ژوند ډېرې مسئلې حل کولے شي. په دې وجه ډاکټر صابر ته تجزيه کار او ذهن ساز شخصيت اووئيلے شو. هغه مسئلې او ستونزې چې د ټولنيز ژوند مخه ئې قدم په قدم وهلې ده. دغه پټې او سياسي مسئلې صابر په خپل کلام کښې ډېر په شګفته لهجه کښې په واضحه توګه څرګند کړې دي. هغهٔ د موضوع، معنې، جذبې او تخيل په زور داسې اعتباري فنپارې تحرير کړې چې د وهبي، حقيقي او جديد شاعرئ په معيارونو او قاعدو پوره خېژي. چې د هغهٔ د شعري بصيرت او بصارت سره سره د هغهٔ د سټائل انفراديت په ګوته کوي.

## ماخذونه


۱: زبيح شفق، زما صابره (سريزه)، د صاحب شاحب کليات، دانش خپروندويه ټولنه، پېښور، ۲۰۱۰ء مخ (الف)
۲: قيصر اپريدے، ليک او تخليق، جرس ادبي جرګه کراچی، ۲۰۰۴ء، مخ ۷۲
۳: صابر، صاحب شاه، د صاحب شاه صابر کليات، دانش خپروندويه ټولنه، پېښور، ۲۰۱۰ء، مخ ۳۲۷
۴: هم دغه اثر، مخ ۱۱۵
۵: هم دغه اثر، مخ ۹۶
۶: هم دغه اثر، مخ ۴۰۰
۷: هم دغه اثر، مخ ۳۱۶
۸: هم دغه اثر، مخ ۳۶۷
۹: هم دغه اثر، مخ ۲۱۵
۱۰: هم دغه اثر، مخ ۲۱۷
۱۱: هم دغه اثر، مخ ۳۶۷
۱۲: بخاری، سيد طاهر، تنقيد او ادبي مفردات، موسٰ اينډ برادرز پرنټرز، ۲۰۱۶ء، مخ ۳۶۳

۱۳: سید عابد علی، اسلوب، سنگ میل پبلیکیشنز لاهور، ۲۰۰۱ء، ص ۵۸
۱۴: گوپی چند نارنگ، ادبي تنقید اور اسلوبیات، سنگ میل لاهور، ۱۹۹۱ء، ص ۱۸
۱۵: ایضاً ، ص ۱۹
۱۶: ایضاً، ص ۱۵
۱۷: صابر، صاحب شاه، د صاحب شاه صابر کلیات، دانش خپروندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۱۰ء، مخ ۱۴۳
۱۸: هم دغه اثر، مخ ۱۷۹
۱۹: هم دغه اثر، مخ ۲۸۴
۲۰: هم دغه اثر، مخ ۱۸۰
۲۱: هم دغه اثر، مخ ۲۴۷
۲۲: هم دغه اثر، مخ ۲۵۳
۲۳: هم دغه اثر، مخ ۳۱۶
۲۴: هم دغه اثر، مخ ۳۱۷
۲۵: هم دغه اثر، مخ ۳۱۶